مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۴/۰۲/۰۸

# مینه او جون الیا

زما نظر دا دی چې مینه کېږي نه؛ باید خپله وشي او دا چې زه یو شاعر یم او د عشق په موضوع له ټولو لوی سند خپله شاعر دی؛ نو ځکه باید تاسې زما خبره ومنئ. که د مینې په موضوع زه (یو شاعر) د سند په توګه و نه منل شي؛ نو د کوم اي جي، ډپټي کمیشنر او یا له دوی هم د ور پورته کوم کماندړ چیف، وزیراعظم او یا د ولسمشر قول به د سند په توګه ومنل شي؟

بالکل نه!

دوی خو هغه نېکمرغه او د عامي کټیګرۍ خلک دي، چې نه مینه کوي او نه خدایي مئینېږي. ټولې بد ذوقه، بې شعوره، بد باطنه او دنیا داره ښکلي د همدوی په ښکېلولو بوختې وي.

ما هر ځل ښکلي مېرمنې په عامه توګه بې ضمیره او لالچې لیدلې.
کم له کمه زه هغه یم چې تر اوسه یې ضمیر لرونکې او بې غرضه ښکلې سره د لیدلو موقع نه ده پیدا کړې.

لیکنه: جون الیا

ژباړه: سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ